اداریه

بسم الله الرحمن الرحیم

# عرب اسلامک امریکن کانفرنس

## کښې د صدر ټرمپ د خطاب

## سیاسي مفهوم او پښتانهٔ

تقریباً د ۵۵ اسلامي ملکونو په کانفرنس کښې د صدر ټرمپ او سعودي فرمان روا شاه سلمان نه علاوه هیڅا ته د اظهار خیال موقعه ور نهٔ کړے شوه. د پاکستان وزیراعظم هم خپل لیکلے تقریر په جیب کښې واپس راوړو. سړے نهٔ شي وئیلے چې دا د اسلامي ملکونو د نمائندګانو کانفرنس ؤ کهٔ ون مین شو وه. یعنې د صدر ټرمپ تقریر اورېدل وو.

داسې ښکاري چې سبوا د وزیراعظم پاکستان نوازشریف نه چې هغه د ځان سره بوتلو صحافیانو ته څو خبرې وکړې. نور هیچا اخبارونو ته رجوع هم نهٔ ده کړې. او یوه علامتي اتفاق رائے لکه چې موجوده وه.

د سعودي عرب په ,,سرکاري ویب سائټ،، چې د کانفرنس کوم اعراض و مقاصد بیان شوې وو هغه دا وو چې اعتدال او برداشت ته فروغ ورکول. او د دهشت ګردۍ او انتها پسندۍ د ختمولو دپاره به بین الاقوامي شراکت داري قائمولے شي. دغه د نمائندګانو کانفرنس کښې چې د امریکې صدر کوم آرډر جاري کړو کم و بېش هم هغه خبره د سعودي فرمان روا شاه سلمان په خپلو خبرو کښې تائید کړه. او شاید چې دا د ټولو خبرو نه زیاته اهمه خبره ده. صدر ټرمپ ووې چې ایران یوازې کړئ. شاه سلمان چې د دې کانفرنس کوربه هم ؤ. ووې چې ایران د ټولو نه لویه خطره ده. د نورو خلیجي اسلامي ملکونو رقابتونه هم بې شکه د ایران سره شته. خو ایران خو کوم په خلاء کښې زوړند ملک نهٔ دے. ایران یو ملک دے او د پېړو پېړو روابط د ځینې ملکونو سره لري. خصوصاً د ګاونډي ملکونو سره. په دې حقله د پاکستان مشکلات یو په څو چنده کېدے شي. د امریکې د صدر ټرمپ په خطاب کښې هغوي د دهشت ګردۍ په حواله متاثر شوے ملک بهارت وګڼلو. خو د پاکستان ذکر ئې ونهٔ کړو. په تېره هفته کښې اسفندیارولي خان د پاکستان د خارجه پالیسۍ په حقله ووې چې د پاکستان نه چاپېره د پاکستان څلور ګاونډیان دي. د پاکستان یوازې د یو ګاونډي چین سره تعلقات ښه دي. د نورو درې واړو ګاونډیانو سره ښه نهٔ دي. د اسفندیارولي خان خبره یوه معنی نهٔ لري بلکې د معنی خېزۍ یوه سلسله لري.

ځینې خلق ډېر په اسانه وائي چې روس به ډېر په اسانه ګرمو اوبو ته ورسي. ځینې خلق د پاک چائینا کاریډور مسئلې ته هم د شک په نظر ګوري. بیا د ځینې خلقو دا خیال دے چې د افغانستان په مسئله د نوي سرد جنګ آغاز شوے دے. کهٔ واقعي د افغانستان په خاوره دغه د څلویښتو کالو

جنګ د لویو قوتونو جنګ ؤ نو د ځینې خلقو موجود ګمانونه د یو حده پورې درست ثابتیدے شي. ځکه چې د افغانستان جنګ د امریکې په مشرۍ کښې ضیاء الحق شروع کړے ؤ. هغې جنګ کۀ یو طرفته روس په واپسۍ مجبور کړے ؤ نو بل طرفته ئې دلته مفادات هم وو او دي هم. دلته د پاک چائینا کاریډور په ذریعه چې کوم اتحادونه مخې ته را روان وو. د هغې د متاثر کېدو دپاره کۀ مونږ د صدر ټرمپ په نوي بیانیه فکر وکړو نو په ظاهره دا یوه وړه خبره ښکاري خو کۀ مونږ دې ته د اسفندیارولي خان د بیان په تناظر کښې وګورو نو د موجوده صورت حال نه د پوره فائدې اخستو دپاره د صدر ټرمپ د حکمنامې د وخت انتخاب د نورو نازکو حالاتو نشاندهي کوي.

د پاکستان په افغانستان کښې د بهارت مراسمو ته د شک په نظر کتل او د بهارت د چین ګوادر ته راتګ ته په یو بل نظر کتل. د پېدا شوؤ شکونو په کیفیتونو کښې زر زر بدلونونه نوره دا سلسله په مخکښې بیائي. په یو اوسني مقامي اخبار کښې د واشنګټن (آئي این پي) په حواله یو خبر خور شوے دے چې امریکه به پاکستان ته فوځي ورکوونکے امداد د قرض په صورت کښې بدلوي. او د دې نه هم د پاکستان په مشکلاتو کښې د اضافې سره سره د علاقې دپاره د صدر ټرمپ نوې بیانیه نوي خدشات په ګوته کوي.

سوال دا دے چې د ټرمپ او فرمان روا شاه سلمان غړ یوازې د ۵۵ اسلامي ملکونو دپاره دے کۀ د پاکستان دپاره هم دے. خو پاکستان د دومره نورو مشکلاتو سره سره کۀ د نورو خلیجي ملکونو غوندې په دغه بیانیه کښې شاملېږي نو د دغې سره به ئې د نور ګاونډ څه صورت حال وي؟ داسې ښکاري چې د پښتنو افغانانو په خاوره د یوې نوې لوبې دپاره تیارے روان دے. په دې کانفرنس کښې چې د امریکې او سعودي عرب ترمېنځه کوم لېن دېن شوے دے د ۳۵۰ارب ډالرو معاهده شوې ده. سابق صدر اوباما د دوي سره د ۷۵ ارب ډالرو لوظنامه کړې وه چې دغه د هغې وخت پوهانو د ټولو نه لویه لوظنامه ګڼلے وه. او د ۷۵ هزار ملازمتونو دپاره ئې هم لاره جوړه کړې وه. او د دې لوظنامې نه پس د تجزیه کارانو رائې دا ده چې په دې کښې به د یو لاکهـ نه د زیاتو ملازمتونو ګنجائش پېدا کړي. د ۵۵ ملکونو نمائندګان دې بیانیې ته وازې خولې پاتې شو. ځکه چې د پښتو متل دے چې ,,د زورورو غوائے په نښتر خیږي،، د امریکې صدر ټرمپ د خلیجي ملکونو نمائندګانو ته دا هم وائي چې تاسو د داعش خلاف کار وکړئ او د خپل مدد په زور ئې وکړئ.

وائي چې د صدر ټرمپ لهجه د شاه سلمان بن عبدالعزیز نه هم زیاته سخته وه. خو دغې مشرانو ته د سعودي عرب بادشاه وئیلي وو چې ټرمپ د مسلمانانو دوست دے دښمن نۀ دے. صدر ټرمپ په دې هم ډېر خوشحاله ؤ چې د خلیجي ملکونو نمائندګان ایران د داعش نه هم لویه خطره ګڼي. خو سعودي عرب به دغه سامان هرب د چا چا خلاف او کله په استعمال کښې راولي. وائي چې د سنډګانو په جنګ شامت د چندخو رائي. دا بیانیې او دا فرمانونه او پېغامونه د څۀ دپاره دي. دا سوالونه شاید چې جوابونه ونۀ مومي. او دنیا بدله کړے شي.